زعفران

لیکوال: جوهرجبران

کال: ۱۴۰۴ هـ.ش

زعفران

لیکوال: جوهرجبران

کال: ۱۴۰۴ هـ.ش

JIBRAN
PRIVATE LIBRARY
جبـــران شخصـي کتــابتـــون

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم: زعفران

لیکوال: استاد جوهر جبران

خپرندوی: جبران شخصي کتابتون

کمپوز: په خپله لیکوال

ډیزاین: انجنیر ګوهر جبران

چاپ کال: ۱۴۰۳ ل

د چاپ شمېر: ۱۰

د چاپ لړ: (۰۰۳۶)

د چاپ وار: لومړی

+93 707604044: واټساپ او اړیکه

د چاپ حقوق له لیکوال سره خوندي دي

ترلاسه کیدو ځای

www.Ketabton.com

لړلیک

عنوان **مخ**

سریزه...1

دزعفران پېژندنه 4

۱ .تاریخي شالید 6

دزعفرانو تاریخچه 7

۱ .دزعفرانو لومړنۍ کشفونه 11

۲ .دزعفرانو د کرنې پراختیا 11

۳ .دزعفرانو په اروپا کې وده 12

۴ .دزعفرانو د درملیزو کارونو تاریخ 12

۵ .دافغانستان، ایران او هسپانیا اهمیت 12

۶ .کلتوري اهمیت 13

۱ .زعفران د تاریخي او کلتوري میراث برخه 13

۲ .دافغان ټولنې سره تړاو 14

الف. د کورنیو دودونو برخه 14

۳ .د ټولنیز لحاظ ارزښت 14

الف. د ښځو شتون او ټولنیز بدلون 14

۴ .د ملي هویت او غرور نښه 14

۵ .دافغانستان د زعفران کلتوري صنعت پرمختګ 15

لنډیز د زعفرانو کلتوري اهمیت 15

۲ .جغرافیایي ویش 15

۱ .د زعفران تولید او پراختیا په افغانستان کې 16

الف. پراخېدونکی تولید 16

ب. د کښت ساحه او ولایتونو 16
۲ .د زعفرانو صادرات او ارزښت 16
۳ .د نړیوال بازار او مقام 17
۴ .د تولید ظرفیت او تولنیز اغېز 17
۵ .ننني ننګونې او فرصتونه 17
الف. ننګونې 17
ب. فرصتونه 17
۶ .مهمې ټکي په لنډه ول 17
۳ .نباتي ځانګړتیاوې 18
۴ .د زعفران کلتوري اهمیت 18
د زعفران بیولوژیکي جوړښت 18
۱ .ریښه(Corm) 19
۲ .پاڼې 20
۳ .ګلونه 21
۴ .د ګل داخلي برخې 21
۵ .د نبات ودې دوره 23
۶ .د ودې لپاره اړین چاپیریالي شرایط 23
۷ .د زعفران د ودې بیولوژیکي اړخونه 24
د زعفران درملیز ارزښت 24
۱ .د زعفران کیمیاوي مرکبات 26
۲ .د معدې او هضم سیستم لپاره ګټې 27
۳ .د عصبي سیستم لپاره اغیز 27
۴ .د معافیت لوړولو ځانګړتیاوې 28
۵ .د زړه او وینې سیستم لپاره اغیز 28

۶ .دسرطان او ناروغيو مخنيوي ورتياوې 29
۷ .دساري ناروغيو مخنيوي او ضد انفکشن اغيز 29
۸ .رواني فشار، اضطراب او خوابدی کمول 30
۹ .علمي څیړنې او تجربوي شواهد 30
۱۰ .نتيجه 31
۱ .دخوراکي کارونې طريقې 31
۲ .درمليزو کاروني طريقې 32
۳ .دښکلا او پوستکي لپاره کارونې 33
۴ .د کلتوري او مذهبي کارونې طريقې 33
۵ .داقتصادي او سوداګريز کارونې طريقې 33
۶ .دمختلفو موادو سره مخلوط کارونې طريقې 34
۲ .دزعفراني معجونونو ډولونه 35
۳ .دزعفران معجونونو دجوړولو تخنيکونه 36
۴ .دزعفران معجونونو درمليز تاثيرات 37
۵ .دزعفران معجونونو اقتصادي اهميت 38
۶ .دعصري ساينس او څیړنو له نظره 38
دزعفران اقتصادي ګټې او کرنيز اهميت 39
۱ .دزعفران اقتصادي ارزښت 40
۲ .کرنيز اهميت 41
۳ .د توليد نړيوال وضعيت 41
۴ .دصادراتو اهميت 42
۵ .د کرنې تخنيکي اړخونه 43
۶ .دزعفران د کرنيز او اقتصادي ګټو ترکيب 43
۷ .په افغانستان کې دزعفران توليد او کرنيز اهميت 44

۸ .نړیوال بازار او اقتصادي فرصتونه 44
په افغانستان کې د زعفران کرنیز ارزښت او اقتصادي ګټې 45
الف) دلوړ اقتصادي ارزښت محصول 45
هرات د «سرخ زر» مرکز 46
د هرات اقلیم او د زعفرانو کرنه 46
طبیعي شرایط 46
د هرات د زعفرانو کرنې تاریخچه 47
زعفران د هرات په کرنه کې 47
د کښت ساحه او تولید 47
طبیعی کرنه او کیفیت 47
تولنیزې اغېزې 48
ښځو ته کار او ژوند لپاره 48
روزنه او ظرفیت لوړونه 48
د زعفرانو تولنیز او اقتصادي ارزښت 48
د عاید ښه والی 48
صادرات 49
د زعفرانو د کرنې تخنیکونه 49
د تخم انتخاب 49
د اوبو لګونې مدیریت 49
د کار ځواک 50
د پرمختګ لاملونه او ننګونې 50
مثبت پرمختګونه 50
ننګونې 50
د هرات زعفران مهمې ځانګړتیاوې 50

نړیوال شهرت 51
اقتصادي ګټې 51
ټولنیزې اغېزې ټولنې ته 51
۲ .د کرنیزو شرایطو او د تولید فزیکي ارزښت 51
الف) کمې اړتیاوې او د اقلیم تطابق 52
ب) څو کلنه دوامداره کرنه 52
ج) د کارګرانو مسلکي برخه 52
۳ .د صادراتو او نړیوال بازار ارزښت 52
الف) د صادراتو حجم او ارزښت 52
ب) د صادرېدونکو هېوادونو لیست 53
۴ .د کورني عاید او د بزګرانو ژوند 53
الف) د بزګرانو اقتصادي وضعیت 53
ب) د بېوزلۍ راکمول 53
۵ .کاري فرصتونه، ټولنیز او جنسیتي اړخ 54
الف) د ښځو ونډه 54
ب) د کلیوالو کاري فرصتونو پراختیا 54
۶ .د اسلامي امارت او دولتي ملاتړ 54
۷ .زعفران او د مخدره توکو بدیل 54
۸ .د زعفران اقتصادي او ټولنیز ننګونې 55
•بازاري بې ثباتي او د کیفیت معیارونه 55
•نړیوال شهرت او براند جوړونه 55
•تخنیکي ملاتړ او مالي سرمایه 55
نړیوال ارزښت 56
فعال کیمیاوي مواد او ساینسي اساس 56

۱ .کروسن(Crocin) 57

۲ .سافرانال(Safranal) 57

۳ .پیکروکروسین(Picrocrocin) 57

عصري علمي څېړنې او طبي اغېزې 58

۱ .دروانې روغتیا ملاتړ 58

۲ .د سترګو او اعصابو ملاتړ 58

۳ .انټي اکسیدان او د حجرې ساتنه 58

۴ .د هاضمې، د زړه او میتابولیزم اغېزې 58

۵ .د وزن مدیریت 59

غذایي او دوديز استعمال 59

خوندي استعمال او خطرونه 59

نړیواله څېړنیزه څېره 60

سپارښتنې 61

پایله 63

ماخذونه 64

سریزه

د طبیعت په پراخه نړۍ کې داسې نباتات شته چې نه یوازې د انسان د ژوند د خوند او ښکلا سبب ګرځي، بلکې د اقتصاد، کلتور او روغتیا په ډګرونو کې هم ژور اغېز لري. له همدې ارزښتناکو نباتاتو څخه یو هم زعفران دی Crocus sativus .چې په نړۍ کې د سرو زرو په شان قیمتي مساله بلل کېږي، د زرګونو کلونو راهیسې د انسان له ژوند سره تړلی پاتې شوی دی. د دې نازک او خوشبویه نبات هر تار د طبیعت د ښکلا، د بزګر د زیار او د تاریخ د اوږدې کیسې استازیتوب کوي.

۱.انځور: د زعفرانو ګل، او خپله زغفران راښيي.

زعفران یوازې یوه ساده مساله نه ده؛ بلکې د تمدنونو په تاریخ کې یې ځانګړی ځای خپل کړی دی. د لرغونو تولنو له درملیزو دودونو څخه نیولې د معاصرو خوړو تر صنعت پورې، زعفران تل د لوړ ارزښت سمبول پاتې شوی دی. د دې نبات ځانګړی رنګ، زړه راښکونکې بوی او درملیزې ځانګړتیاوې هغه عوامل دي چې انسانان یې د زرګونو کلونو راهیسې کارولو ته هڅولي دي.

زعفران

په افغانستان کې هم زعفران د کرنې په ډګر کې یو نوې هیله بلل کېږي. په ځانګړې توګه Herat د دې نبات د تولید اصلي مرکز ګرځېدلی دی. د دې ولایت حاصلخېزې ځمکې، مناسب اقلیم او د بزګرانو تجربه سبب شوې چې د افغانستان ډېره برخه زعفران همدلته تولید شي. راپورونه ښیي چې نږدې ۹۵ سلنه افغاني زعفران په همدې سیمه کې کرل کېږي، چې دا چاره نه یوازې د سیمې اقتصاد پیاوړی کوي بلکې د کوکنارو د بدیل په توګه هم مهم رول لوبوي.

۲.انځور: په هرات کې د زعفرانو پروسیس راښیي.

د نړۍ په کچه هم د افغانستان زعفران خپل ځانګړی مقام موندلی دی. د International Taste Institute له خوا څو ځله د نړۍ تر ټولو غوره زعفران بلل کېدل د دې حقیقت څرګندونه کوي چې افغاني زعفران د کیفیت، خوند او خوشبویۍ له مخې نړیوال معیارونه پوره کوي. دا لاسته راوړنه نه یوازې د افغان بزګرانو د هڅو ستاینه ده، بلکې د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د نړیوال شهرت یوه مهمه نښه هم ګڼل کېږي.

سربېره پر دې، زعفران د افغانستان په اقتصاد کې ورځ تر بلې مهم ځای خپلوي. د صادراتو زياتوالی او د نړيوالو بازارونو غوښتنه ښيي چې دا نبات کولی شي د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره يو مهم بنسټ جوړ کړي. د راپوروونو له مخې افغانستان په وروستيو کلونو کې لسګونه ټنه زعفران نړيوالو بازارونو ته صادر کړي چې ارزښت يې لسګونه ميليونه ډالرو ته رسېږي. دا پرمختګ د دې څرګندونه کوي چې زعفران يوازې يو کرنيز محصول نه دی، بلکې د اقتصادي ودې او د بزګرانو د ژوند د ښه کېدو لپاره يو مهم فرصت هم دی.

دا کتاب هڅه کوي چې د زعفرانو په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړي. په دې ليکنه کې به د زعفران تاريخي شاليد، نباتي پېژندنه، بيولوژيکي جوړښت، درمليز ارزښت، اقتصادي ګټې او کرنيز اهميت په علمي او مستندو معلوماتو سره تشريح شي. همدارنګه به د افغانستان، په ځانګړي ډول د هرات د زعفرانو د توليد، کيفيت او نړيوال مقام په اړه هم تفصيلي بحث وړاندې شي.

هيله ده چې دا کتاب به نه يوازې لوستونکي د زعفرانو له نږدې سره اشنا کړي، بلکې د دې ارزښتناک نبات د علمي، اقتصادي او فرهنګي اهميت په درک کې به هم مرسته وکړي. دا ليکنه د بزګرانو، محصلينو، څېړونکو او د کرنې د برخې ټولو مينه والو لپاره يو کوچنی علمي ګام دی، څو د طبيعت له دې قيمتي ډالۍ څخه ښه پېژندنه ترلاسه کړي او د هغې د پراختيا لپاره لا زياتې هڅې وشي.

د زعفران پېژندنه

زعفران، چې علمي نوم يې **Crocus sativus** دی، د نړۍ له پخوانيو قيمتي مصالحو څخه ګڼل کېږي. دا نبات يوازې د خوراکي يا درمليزو موادو له نظره اهميت نه لري، بلکې د فرهنګي، اقتصادي او طبيعي ارزښتونو په برخه کې هم ځانګړی مقام لري. د زعفران پېژندنه د نباتي علومو، تاريخي شواهدو او اقتصادي تحليل له مخې يو بشپړ او اوږد بحث دی چې د کرنې، نبات پوهنې او حتی ټولنپوهنې له اړخه يې اهميت څرګندوي.

۳.انځور: د زعفرانو ګلونو د راټولونه بهير رابښيي،.

ګنګو (*<u>په عربي</u> :زعفران، <u>په انګرېزي</u> Saffron :*) يو ډول مساله ده چې د درملو او خوړو په توګه کارېږي. په عربي يې هم زعفران بولي. ګنګو نن سبا په افغانستان کې هم توليدېږي چې د افغانستان په لويديزو ولاياتو کې لکه هرات کې کرل کيږي او صادرات لري او د کوکنارو نعم البدل هم کيدای شي.

هرات زعفران د «نړیوال ذایقې انستیتیوت» له لوري دلسم ځل لپاره د نړۍ تر ټولو غوره زعفران و پیژندل شو. هرات د افغانستان د زعفران د اصلي ځای په توګه پېژندل کېږي او راپورونه ښیي چې د افغانستان ۹۵٪ زعفران په دې ولایت کې تولیدېږي.

دغه انستیتیوت په خپله رسمي پاڼه کې لیکلي چې د هرات زعفران د نړیوال ذایقې انستیتیوت د ججانو له خوا، چې په کې د نړۍ تر ټولو مشهور پخلي کونکي او د مشروباتو متخصصان شامل دي، د غوره زعفران په توګه وټاکل شو.

د اسلامي امارت د صنعت او تجارت وزارت وایي چې افغانستان په تېر میلادي کال کې ۵۶ ټنه زعفران، چې ارزښت یې له ۵۵ میلیونو ډالرو څخه زیات دی، بهر ته صادر کړی دی.

۴.انځور: د ګل راټولونه راښیي.

د دغه وزارت ویاند آخندزاده عبدالسلام جواد بي بي سي ته وویل چې دا مقدار زعفران هند، اسپانیا، سعودي عربستان، متحده عربي امارات، امریکا، کاناډا، انګلستان، ایټالیا، ترکیه، عمان او نورو هېوادونو ته صادر شوی دی.

نړیوال ذایقې انستیتیوت د دې تصویر خپرولو سره هرات زعفران د نړۍ غوره زعفران اعلان کړ.

هرات د افغانستان د زعفران اصلي ځای دی. څو ورځې مخکې د هرات د سوداګرۍ او پانګونې خونه اعلان وکړ چې د روان لمریز کال په لومړیو نهه میاشتو کې د دې ولایت څخه د ۳۰ میلیونو او ۳۵ زره ډالرو ارزښت زعفران نړیوالو بازارونو ته صادر شوی دی.

محمد یوسف امین، د دې خونې اجرائیه مشر، د بهر ته صادر شوي زعفران ټول مقدار ۲۲ ټنه او ۱۳۰ کیلوګرام اعلان کړ.

۱ .تاریخي شالید

د زعفران تاریخ زرګونه کاله شاته ځي. شواهد ښیي چې د زعفران کارول په منځني ختیځ کې له میلاد څخه مخکې هم رواج درلود. په لرغونو متنو کې، لکه د ایران او هندوستان د زړو تمدنونو اسنادو کې، د زعفران یادونه شوې ده چې د خوړو خوند او د طبي موخو لپاره کارول کېده. د هیلېنیک دورې په ادبیاتو کې هم زعفران د ښکلا، ارامتیا او روغتیا سره تړلی دی.

۵. انځور: یو ښکلي لوښي زعفران راښیي.

په منځنیو پیړیو کې، د اسلامي امپراتورۍ په زمانه کې، زعفران د سوداګریزو لارو له لارې اروپا ته هم صادرېده. په هغه وخت کې دا مصالحه د امیرانو، درباري اشخاصو او مشهور شاعرانو لپاره ځانګړې ارزښت لرله. د ادب په ژبه کې د زعفران یادونه د ښکلا، عشق او د طبیعي بویونو سمبول ګڼل شوې ده.

د زعفرانو تاریخچه

زعفران (Crocus sativus) د نړۍ یو له خورا لرغونو او قیمتي بوټو څخه دی چې د خوراکي، درملیزو او کلتوري موخو لپاره کارول شوی دی. د دې تاریخچه زرګونه کاله شاته ځي او په بېلابېلو تمدنونو کې یې ځانګړی ځای درلود.

زعفران د خپل ښکلي رنګ او خوږ بوی له امله په لرغوني یونان کې ډېر ستایل کېده او د بې خوبۍ د درملنې او د شرابو له څښلو وروسته د رامنځته کېدونکې سرګرځۍ او خماري د له منځه وړلو لپاره کارول کېده. همدارنګه له زعفران څخه د حمام د خوشبويۍ لپاره او د جنسي مېلان د پیاوړتیا لپاره هم استفاده کېده.

۶.انځور: میرمن په لاس د زعفرانو جام راښیي.

زعفران

ځيني خلک د زعفران اصلي ټاټوبی د ايران د لرغوني ماد ايالت ګڼي، خو يو شمېر څېړونکي بيا باور لري چې د زعفران اصلي سرچينه د ځمکې په يوه پراخه سيمه کې وه چې يونان، ترکيه، آسياى صغير او ايران پکې شامل وو.

عربانو د زعفران له آراموونکي خاصيت څخه استفاده کوله، او همدوی وو چې د زعفران د کرلو طريقه يې هسپانيا ته وروښوده. ډېر شواهد ښيي چې زعفران په هغه وخت کې د هسپانوي.عربي خوړو له مهمو موادو څخه ګڼل کېده.

په منځنيو پېړيو کې زعفران بريتانيې ته ورسېد. افسانې وايي چې د اډوارډ درېيم د واکمنۍ پر مهال يوه مسافر د زعفران پياز د خپلې عصا په تش ځای کې پټ کړی و او له منځني ختيځه يې د والدن ښار ته يووړ. هلته دغه پياز وکرل شو او تکثير شو چې د ښار د اقتصادي ودې سبب وګرځېد.

د رنسانس په دوره کې د ونيز ښار د زعفران تر ټولو مهم سوداګريز مرکز ګڼل کېده. په هغه وخت کې د زعفران ارزښت د سرو زرو په اندازه و او نن هم د نړۍ تر ټولو ګرانبيه مساله بلل کېږي. خو له بده مرغه د زعفران لوړې بيې د تقلبي زعفران د رامنځته کېدو لامل شوې، او په هغه وخت کې متقلب کسان سخت مجازات کېدل. د انګلستان پاچا هنري اتم چې د زعفران خوشبويي يې ډېره خوښوله، حتی متقلب کسان يې د مرګ په سزا محکومول.

د موجودو اسنادو او تاريخي مدارکو له مخې، ايرانيانو نه يوازې زعفران د لرغوني نړۍ ډېرو سيمو ته صادر کړ، بلکې د زعفران ځانګړتياوې يې يونانيانو، روميانو، چينايانو او سامي قومونو لکه عربانو ته هم وروپېژندلې. همدارنګه د زعفران د کرنې طريقه يې د هجري لمړيو څخه تر څلورمو پېړيو پورې د مديترانې شاوخوا اسلامي ملتونو ته ورزده کړه. په دې ډول چې د زعفران لومړني کرنيز مرکزونه د هغو ايرانيانو له خوا جوړ شول چې د معاويه له لوري د شام سيمو ته تبعيد شوي وو. وروسته بيا د زعفران کرنه په شمالي افريقا، اندلس (اسلامي هسپانيا) او وصقليه (سيسيل) کې هم دود شوه.

همدارنګه ځینې ایراني تېرونه لکه رستمیان او بنو طبري د زعفران د کرنې د فرهنګ په لېږد کې اغېزمن رول درلود.

تاریخي اسناد دا حقیقت څرګندوي چې ایرانیانو له لرغونو زمانو راهیسې د سرو زرو او زعفرانو سره ځانګړې مینه لرله. د جشنونو، خوښیو او بزمونو په مجلسونو لکه ودونو او اخترونو کې، یا د مشرانو او زائرانو د هرکلي پر مهال به یې د درناوي په توګه زر او زعفران د هغوی پر قدمونو شیندل. په ځینو مراسمو کې به زعفران یوازې یا د مشک، عنبر او عود سره یو ځای سوځول کېدل او د خوشبویۍ لپاره به ګلاب هم شیندل کېده.

۷.انځور: په لرغونو انځور کې د زعفرانو بوټي او پېغله راښیي.

زعفران د هخامنشي دورې په زمانه کې

ایا پوهېږئ چې د هخامنشیانو په دوره کې زعفران د ډوډۍ د ښکلا لپاره او د خوړو د خوشبویۍ لپاره کارول کېده؟ فردیناند یوستي د داریوش دژوند د بیان پر مهال لیکي:

((د ایران پاچا خپل بدن په داسې خوشبویه غوړونو مالوه چې د لمرګلي له غوړیو شخه جوړ شوي وو، دا غوړي د زمرې په وازدو کې پخېدل او له زعفران او د خرما له شرابو سره ګډېدل.))

د اشکانیانو (پارتانو) په دوره کې د ایران زعفران یونان او روم ته صادرېده، او وروسته چین هم د ایران د زعفرانو له مهمو پېرېدونکو شخه شو. د ساسانیانو په دوره کې د قم او بون په سیمو کې د زعفران کرنه دود شوه او د هغوی د محصول کیفیت ډېر شهرت وموند.

۸.انځور: زعفران د هخامنشي دورې په زمانه کې راښيي.

په هماغه زمانه کې زعفران د قیمتي کاغذونو د رنګولو او ښکلا لپاره هم کارېده، خو له دې څخه مخکې د زعفرانو محلول د لیکلو د رنګ (مرکب) په توګه استعمالېده او تر ډېرو پېړیو وروسته هم د غوره لیکلو رنګونو په ترکیب کې کارېده. د زعفراني رنګ بېلابېل ډولونه، له روښانه ژېړ څخه تر د وینې په شان سور رنګ پورې، د پاچاهانو، خلیفه ګانو او امیرانو د فرمانونو او لیکونو د سرلیکونو لپاره کارېدل. همدارنګه د کتابونو او رسالو د عنوانونو، سرلیکونو، تذهیب، تشعیر، انځورونو او د حاشیو د نقشونو لپاره هم ترې استفاده کېده.

سربېره پر دې، د مقدسو دعاوو، تعویذونو او ځانګړو طلسمونو د لیکلو لپاره هم د زعفرانو مرکب کارول کېده، چې دا لیکنې به کله پر کاغذ، کله پر ټوکر او ځینې وخت آن پر کفن هم لیکل کېدې.

۱ .د زعفرانو لومړنۍ کشفونه

د لرغونو اسنادو له مخې، زعفران لومړی ځل په منځني ختیځ کې کرل شوی دی. شواهد ښیي چې د لرغوني فارس (ایران) په سیمو کې د میلاد نه مخکې د ۱۰۰۰ کالو څخه زیات زعفران کرل کېده. په هندي او میسوپوتامیا تمدنونو کې هم د زعفرانو کارونې شواهد موندل شوي دي، چیرې چې دا د خوړو، درملو او مذهبي مراسمو لپاره **کارول کیده.**

۲ .د زعفرانو د کرنې پراختیا

په لرغوني فارس کې زعفران د ځانګړې ګټې لپاره کرل کیده او د لوړې بیې له امله یې یوازې شاهي کورنۍ او لوړپوړي اشخاص کارول. د زعفرانو کرنه وروسته له ایران نه

هسپانیې او مدیترانې سیمو ته ورسیده. د هسپانیایانو له لارې زعفران اروپا ته ورسېد او هلته یې د خواړو، درملو او عطر جوړونې په صنعت کې شهرت ترلاسه کړ.

۳ .د زعفرانو په اروپا کې وده

په منځنیو پیړیو کې، د هسپانیا د کاتالونیا او لا مانچا سیمو کې زعفران د اقتصاد یوه مهمه برخه شوه. د ۱۵مې او ۱۶مې پیړۍ په اروپا کې زعفران د قیمتي سوداګرۍ یوه برخه وه او د نورو محصولاتو لکه وریجو، غنم او مصالحو سره تجارت کېده.

۴ .د زعفرانو د درملیزو کارونو تاریخ

په لرغونو متونو کې زعفران د بېلابېلو ناروغیو لپاره د علاج په توګه کارول شوی دی. د هندي آیورودا طب او چینایي طب په متونو کې زعفران د قبض، درد، تنفس ستونزو او حتی د زړه د فعالیت لپاره یاد شوی دی. په قرون وسطی کې اروپایي پوهانو هم د زعفرانو درملیز ارزښتونه ثبت کړي او د زړه، معدې، سترګو او عصبي سیستم د ساتنې لپاره یې کارول.

۵ .د افغانستان، ایران او هسپانیا اهمیت

اوس مهال ایران د نړۍ د زعفران تر ټولو لوی تولیدوونکی هېواد دی او د صادراتو د نړۍ په بازار کې د ۹۰ سلنې برخه لري. افغانستان هم په وروستیو کلونو کې د زعفران په تولید او صادراتو کې پام وړ وده کړې، په ځانګړې توګه د هلمند، قندهار او نیمروز ولایتونو کې. هسپانیا د اروپا تر ټولو مهم تولیدونکی هېواد دی چې د صادراتو له لارې نړیوال بازار ته زعفران عرضه کوي.

۶ .کلتوري اهمیت

زعفران نه یوازې اقتصادي او درملیز ارزښت لري، بلکې د خلکو په فرهنګي دودونو او مذهبي مراسمو کې هم ځانګړی ځای لري. په ایران، افغانستان، هندوستان او هسپانیا کې زعفران د دودیزو خوړو لکه پلو، بریانی او کیکونو په رنګ او خوند کې کارول کیږي.

په ټولیزه توګه، زعفران د زرګونو کلونو راهیسې د انسان دژوند یوه مهمه برخه ده. د دې اقتصادي، درملیز، او کلتوري اهمیت د زعفرانو د نړیوالو صادراتو او کورني تولید لپاره د پام وړ دی. ایران د نړۍ په کچه د زعفرانو اصلي تولیدوونکی دی، افغانستان د سیمې په کچه د کیفیت او صادراتو لپاره پرمختګ کوي، او هسپانیا د اروپا بازار ته مهم عرضه کوونکی دی.

۱ .زعفران د تاریخي او کلتوري میراث برخه

زعفران د نړۍ په بیلابیلو کلتورونو کې د اوږدې تاریخ سره تړلی دی، او افغانستان هم له دې ارزښت څخه مستثنی نه دی. د افغانستان د زعفران کښت تاریخي شواهد ښیي چې دا نبات د لرغونو زمانو څخه په سیمه کې پیژندل شوی او کارول شوی دی، او د سیمه‌ییزو خلکو دژوند برخه ګرځیدلی دی .

په زمرو کې د زعفرانو استعمال په خواړو، درملو، او حتی د دودیزو مراسمو لپاره د پیړیو راهیسې رواج لري او د ټولنیزو اړیکو، دودونو او خوراکي عنعناتو یوه مهمه برخه ده .

۲ .د افغان ټولنې سره تړاو

الف. د کورنیو دودونو برخه

په افغانستان کې زعفران نه یوازې د خوړو خوند او رنګ زیاتوي، بلکې د پرتمینې مېلمستیا او دودیزو خوړو په جوړولو کې هم ځانګړې ارزښت لري. د افغاني پلو، شله‌زرد، او نورو خوراکونو رنګ او خاص خوند د زعفران له شتون سره تړلی دی — دا د کورنیو رسوماتو، اخترونو، ودونو او مهمو غونډو یوه برخه ګڼل کېږي .

۳ .د ټولنیز لحاظ ارزښت

الف. د ښځو شتون او ټولنیز بدلون

په افغانستان کې د زعفران په کرنه کې ډېره برخه ښځې جوړوي. د زعفران د راټولولو او پروسس په کار کې ښځې کلیدي رول لري او دا عمل یې د کورنیو اقتصاد تقویت کړی دی. ډېر شمېر ښځې اوس په هېواده کې د زعفران له لارې خپل عاید زیاتوي، چې دا د ټولنیز بدلون او اقتصادي خپلواکۍ لپاره مهم ګڼل کېږي .

په ځانګړې توګه دا وایي چې **د افغانستان د زعفران کښت او بازار موندنه د ښځو لپاره د اقتصادي فرصتونو دروازې پرانیزي** او په ډېرې برخې کې د کورنیو ژوند مثبت بدلون راولي .

۴ .د ملي هویت او غرور نښه

د افغانستان زعفران په نړیواله کچه د کیفیت او ځانګړي بوی له امله پېژندل کیږي، او دا په ملي فخر بدل شوی دی. د هرات زعفران چې د نړۍ په سیالیو کې غوره درجه ترلاسه کړې، د افغانستان د زراعتي هویت یوه مهمه نښه ګڼل کېږي .

دغه نښه اوس افغانانو ته د هېواد د شتمنیو، د طبیعت د ورتیاوو، او د دودیزو زراعتي مهارتونو د یوه مظاهر په توګه ګڼل کېږي .

۵ .د افغانستان د زعفران کلتوري صنعت پرمختګ

په تېرو څو لسیزو کې د زعفران صنعت د اقتصادي ارزښت ترڅنګ د کلتوري ارزښت په توګه هم وده کړې ده. د زعفران کښت او محصول په کورنیو کچو کې نه یوازې د خوراک برخه ده، بلکې د هنر، سوداګرۍ، نښلونکو مراسمو، او سیمه‌ییزو ننداړو لپاره هم کارول کېږي .

د بېلګې په توګه، په ځینو سیمو کې د زعفران د راټولولو مراسم د ټولنې لپاره یو مهم ټولنیز پېښه ده چې کورنۍ او کلیوال سره راټولوي. دغه دودیز مراسم د یوه کلتوري میراث په توګه نسل په نسل انتقالیږي .

لنډیز د زعفرانو کلتوري اهمیت

✓زعفران د افغانستان په تاریخي کلتور کې د ډېرې مودې راهیسې ځای لري .
✓د خوراک، مېلمستیا، او دودیزو رسوماتو مهم اړخ جوړوي .
✓د ښځو لپاره اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي او ټولنیز بدلون هڅوي .
✓د ملي هویت او غرور یوه نښه ګڼل کېږي، او د نړیوال کیفیت له امله مطرح شوی دی .
✓د ټولنې ګډ دودونه او رسومات د زعفران د کرنې او استعمال له لارې پیاوړي کیږي .

۲ .جغرافیایي ویش

زعفران اصلي کرنیز سیمې په منځنې ختیځ کې متمرکز دي، په ځانګړي ډول د ایران، افغانستان، هندوستان (کشمیر) او د مدیترانې ځینو برخو کې. په نړۍ کې تر ټولو لوړه



کیفیت لرونکی زعفران د ایران او افغانستان له ځینو ولایتونو لکه هرات، هلمند، نیمروز، فراه او بلخ څخه ترلاسه کېږي.

د زعفران کرنه په ځانګړو اقلیمي شرایطو کې ترسره کېږي. دا نبات په خاورو کې چې د اوبو ښه نفوذ ولري او معتدله رطوبت ولري، غوره وده کوي. د زعفران لپاره د خاورې pH باید معتدل (شاوخوا 6–8) وي، او د ګرمۍ هوا سره یې انطباق د ودې لپاره ضروري دی.

۱. د زعفران تولید او پراختیا په افغانستان کې

الف. پراخېدونکی تولید

د افغانستان زراعت، اوبه‌لګونې او مالدارۍ وزارت (MAIL) راپور ورکوي چې په هېواد کې د زعفرانو تولید په تیرو کلونو کې په چټکۍ سره زیات شوی دی. سږ کال ټول هېواد کې شاوخوا **۱۹/۵ ټنه** زعفران تولید شوی، چې دا د تیر کال پرتله نږدې **۲۲٪ زیاتوالی** ښيي. د تولید د پراخېدو یوه مهمه لامل د کرنیزو ساحو زیاتوالی، د بزګرو لپاره د روزنې او د کیفیتي زعفران د کښت د تخمونو وېش دی .

ب. د کښت ساحه او ولایتونو

د زعفران د کرنې لپاره شاوخوا **۷٬۵۵۵ هکتاره** ځمکه په هېواد کې لاندې کرل شوې ده. ډېره برخه له هرات څخه ده، چې شاوخوا ۷۰۰۰ هکتاره ځمکه پکې زعفران کرل شوی دی. همدارنګه د بلخ، فاریاب، کندهار، ارزګان، دایکندي او سرپول ولایتونو کې هم د زعفران کرنه مخ پر ودې ده .

۲. د زعفرانو صادرات او ارزښت

د **صنعت او تجارت وزارت** معلومات ښيي چې په ۲۰۲۵ کال کې افغانستان له نړۍ ته د **۵۶ ټنو زعفرانو صادرات کړي** چې ارزښت یې نږدې **۵۴ میلیون ډالرو** ته رسېدلی دی. دا دیو کال په پرتله نږدې **۱۰٪ وده** ښيي، چې د تولید زیاتوالي او نړیوالې غوښتنې پایله

ده. دغه صادرات هند، اسپانیا، سعودي عربستان، امارات، امریکا، کاناډا، انګلستان، ایټالیا، ترکیه او عمان ته صادر شوي دي .

۳ .د نړیوال بازار او مقام

افغانستان د نړۍ په کچه د زعفران د کیفیت له مخې یو له مخکښو هېوادونو څخه ګڼل کېږي، او په نړیوالو سیالیو کې څو ځلې د **لوړې کیفیت لرونکي زعفران** په توګه وپیژندل شوی دی. د هرات زعفران په ځانګړي توګه د خپل رنګ، بوی او خوند لپاره نړیوال شهرت لري .

۴ .د تولید ظرفیت او ټولنیز اغېز

- د زعفران کرنه د کروندګرو لپاره د عاید یوه مهمه سرچینه ده او په ځانګړي توګه د ښځو لپاره د کار زمینه برابروي، ځکه ښځې په ډېرو مواردو کې د راټولولو او پروسس په کارونو کې په پراخه کچه ګډون کوي .
- د زعفران کرنه د نشه‌يي بوټو (لکه اپیم poppy) له کښت څخه د بدیل په توګه یوه غوره بدیل لار وړاندې کړې، چې د اقتصادي ثبات او کرنیزې ودې سره مرسته کوي .

۵ .ننني ننګونې او فرصتونه

الف. ننګونې

- د زعفران په تولید کې د بازار د سیالۍ زیاتوالی، اقلیمي بدلونونه، او د زراعتي خدماتو محدود لاسرسی د ودې پر وړاندې ځیني ننګونې دي .

ب. فرصتونه

- د نړیوالي غوښتنې زیاتوالی د افغانستان زعفران لپاره ستر فرصت دی، ځکه افغان زعفران په کیفیت او خوند کې په نړیوالو بازارونو کې لوړ مقام لري .

۶ .مهمې ټکي په لنډ ډول

✓افغانستان کې د زعفران تولید په چټکۍ سره زیات شوی دی .

✓د تولید ساحه او صادرات دواړه پراخ شوي دي .

✓هرات د تولید مهم مرکز دی .

✓زعفران د هېواد لپاره د عاید او صادرات مهمه برخه ده .

۳ .نباتي ځانګړتیاوې

زعفران یو څو کلن، پیړیو پایدار **Corm**لرونکی نبات دی. د دې ریښې (Corm) د نبات د تغذیې او ساتنې اصلي منبع ده، چې د لاندې ژوروالي او د خاورو د رطوبت له مخې وده کوي. د ریښې شکل ګرد، غټوالی یې د کرنې نوعیت او د کال د موسم سره تړاو لري. پاڼې یې باریکې، اوږدې او سبز رنګ لرونکي دي، چې د نبات د فوتوسنتز لپاره ځانګړې جوړښت لري. ګلونه د زعفران ځانګړې ښکلا ده: عموماً سپین یا ارغواني رنګ لري، او دننه درې سور تارونه (stigmas) موقعیت لري. همدا تارونه د زعفران اصلي محصول ګڼل کېږي، چې د خوړو، درملو او صابون جوړولو لپاره کارول کېږي.

۴ .د زعفران کلتوري اهمیت

په تاریخي لحاظ، زعفران یوازې خوراکي مصالحه نه وه، بلکې د هنر، ادب او دربارونو یوه قیمتي برخه وه. په ایران کې، د کورني دودیزو مراسمو او واده ګانو کې زعفران د خوړو، چای او خوږو د رنګ او خوند لپاره کارول کېده. د هندوستان په کشمیري فرهنګ کې زعفران د مذهبي مراسمو او روغتیایي ترکیبونو لپاره ځانګړې اهمیت لري. د نړۍ په ادبیاتو کې زعفران د ښکلا، عشق، خوند او طبیعت سمبول ګڼل کېږي. شاعران یې د معطر بوی او ځانګړي رنګ له امله د ښکلا او احساساتو د څرګندولو لپاره کاروي.

د زعفران بیولوژیکي جوړښت

زعفران، چې علمي نوم یې **Crocus sativus** دی، یو څو کلن پیړیو پایدار نبات دی چې د خپل ځانګړي بیولوژیکي جوړښت، د محصول لوړ ارزښت او د درملیزو ځانګړتیاوو له امله خورا اهمیت لري. د دې نبات بیولوژیکي جوړښت د کرنې، نبات پوهنې، او د محصول کیفیت په اړه پوهیدو لپاره بنسټیزه موضوع ده. د زعفران په بیولوژیکي جوړښت کې لاندې مهمې برخې شاملې دي: ریښه(Corm) ، پاڼې، ګلونه، د ګل داخلي برخې، د نبات ودې دوره، او د ودې لپاره اړین چاپیریالي شرایط.

۱ .ريښه(Corm)

ريښه د زعفران نبات تر ټولو مهمه برخه ده چې د تغذيې او د نوي فصل لپاره د انرژۍ ذخيره کولو لپاره کار کوي. د زعفران ريښه په شکل کې ګرد، ټيټه او له څو پوړونو جوړه وي. ريښې د کال په اوږدو کې د خوراکي موادو ذخيره کوي او د ګلانو، پاڼو او نورو ودې برخو د انرژۍ لپاره کارول کېږي.

۹.انځور: زعفران بوټي د ريښې جوړښت راښيي.

د Corm جوړښت:

- **ټولپوړیزه برخه** :د زعفران ريښه څو پوړیزه وي، چې هر پوړ یې د نوي ودې او زاړه ودې لپاره د انرژۍ ذخیره برابروي .
- **پوستکی** :د ريښې خارجي برخه چې د خاورو او رطوبت له اغیزو څخه نبات ساتي .
- **حجم او اندازه** :ریښې د نبات عمر، د کښت شرایطو او د اقلیم د شرایطو سره تړلې وي. د زعفران د کیفیت لوړوالي لپاره د Corm حجم او د تغذيې ذخیره مهمه ده .

د ريښې د ودې لپاره، خاوره باید ښه اوبه جذب کړي او د اوبو ډېروالي یا کمیو سره حساس وي. همدارنګه، د Corm ذخیره شوي مواد د ګلانو د ودې، پاڼو د جوړښت او د محصول کیفیت سره مستقیم تړاو لري.

۲ .پاڼې

پاڼې د زعفران نبات د فوتوسنتز اصلي وسیله ده. دا باریکې، اوږدې او سبز رنګ لرونکې وي. د پاڼو جوړښت د لمر د وړانګو جذب، د هوا د تبادلې لپاره ځانګړی دی او د نبات د ودې لپاره حیاتي اهمیت لري.

د پاڼو ځانګړتیاوې:

- **شمیر** :هر نبات معمولا ۶–۱۰ پاڼې لري، چې د ودې د کال په جریان کې راښکاره کېږي .
- **شکل** :باریک او اوږد، چې د لمر وړانګې ښه جذب کړي .
- **وظیفه** :د خوراکي موادو تولید او ذخیره، د نبات د ودې او ګلانو د تغذيې لپاره .

پاڼې د نبات د ودې لومړنۍ دوره کې راښکاره کېږي او د ګلانو د راښکاره کیدو پر مهال په بشپړه توګه فعاله وي. د پاڼو اوږدوالی او شمیر د نبات د اقلیم، خاورو، او د اوبو د موجودیت سره تړاو لري.

۳ .ګلونه

زعفران ګلونه د دې نبات ځانګړتیا او اقتصادي ارزښت اصلي برخه ده. ګلونه عموماً سپین یا ارغواني رنګ لري، او په هر ګل کې درې اصلي سور تارونه موقعیت لري، چې د زعفران اصلي محصول ګڼل کېږي.

د ګل جوړښت:

- سور تارونه :(Stigmas) د ګل دننه درې سور تارونه چې د زعفران اصلی محصول دي .
- پتې :(Petals) عموماً ۶ پتې لري، چې د ګل ښکلا او رنګ لپاره مسؤلیت لري .
- نسجونه :(Tissue) د ګل داخلي نسجونه د رنګ، بوی او د تولیدي موادو ذخیره کولو لپاره مهم دي .

د ګل داخلي برخې په ځانګړي ډول د زعفران د کیفیت او خوند لپاره اهمیت لري. د تارونو اوږدوالی، رنګ، بوی او شکل د نړیوالو معیارونو له مخې د زعفران کیفیت ټاکي.

۴ .د ګل داخلي برخې

د زعفران ګل داخلي جوړښت د نبات د تولید او اقتصادی ارزښت لپاره حیاتي دی. د ګل داخلي برخې لاندې جوړښتونه لري:

- :Stamensد ګل نرې برخې، چې د پولن تولید لپاره مسؤلیت لري .

- **:Carpel** د ښځینه برخه، چې د تخمونو د ودې لپاره مهمه ده .
- **:Ovule** د تخم تولید ځای، که څه هم زعفران په طبیعي توګه د تخم له لارې نه تکثیر کېږي، مګر دا جوړښت په بیولوژیکي لحاظ مهم دی .

د ګل داخلي برخې جوړښت د زعفران د رنګ، بوی او درملیزو ځانګړتیاوو سره مستقیم تړاو لري. د تارونو د کرل کیدو تخنیک او د ګل د راټولولو وخت د محصول کیفیت ټاکي.

۱۰.انځور: د زعفرانو د ګل داخلي جوړښت راښيي.

۵ .د نبات ودې دوره

د زعفران ودې دوره له کرنې څخه تر ګل کولو پورې څو مرحلې لري:

1. **Dormancy یا استراحت دوره** :د ګل د کرنې وروسته، ریښې په خاوره کې د نوي کال د ودې لپاره انرژي ذخیره کوي .
2. **د پاڼو راښکاره کیدل** :د مني په موسم کې پاڼې راښکاره کېږي، د فوتوسنتز لپاره چمتو کېږي .
3. **ګل کول** :معمولاً د مني په موسم کې، ګلونه راښکاره کېږي، چې درې سور تارونه د محصول د اخیستو لپاره چمتو کېږي .
4. **د محصول راټولول** :د ګلونو د بشپړ غوړیدو وروسته، سور تارونه له ګلونو څخه راټول او وچول کېږي .

د ودې دوره د اقلیم، د اوبو موجودیت، د خاورې کیفیت او د کښت د نوعیت سره تړاو لري.

۶ .د ودې لپاره اړین چاپیریالي شرایط

د زعفران کرنه په ځانګړو چاپیریالي شرایطو پورې تړلې ده:

- **هوا** :معتدله ګرمۍ، د ژمي یخنۍ مناسب، د ګل د غوړیدو لپاره د تودوخې بدلون اړین دی .
- **خاوره** :ښه اوبو جذبونکې، د pH 6–8 سره، د ښه ریښې لپاره .
- **اوبه** :د اوبو لږ ضرورت، خو د رطوبت کموالی د نبات وده کموي .
- **رڼا** :د لمر مستقیم وړانګې د پاڼو او ګلانو د ودې لپاره حیاتي دي .

په دې چاپیریال کې زعفران کولی شي لوړ کیفیت او خوند لرونکي محصول تولید کړي، چې د نړیوالو معیارونو سره سم وي.

۷ .د زعفران د ودې بیولوژیکي اړخونه

د زعفران بیولوژیکي ودې اړخونه لاندې ځانګړتیاوې لري:

- د ریښې انرژي ذخیره کول د محصول کیفیت ټاکي .
- د پاڼو شمیر او اوږدوالی د خوراکي موادو تولید او ذخیره کولو لپاره مهم دي .
- د ګل داخلي جوړښت د تارونو کیفیت، رنګ او بوی ټاکي .
- د اقلیم شرایط د ودې ټولې مرحلې اغیزه کوي، له همدې امله د کرنې میتودونه د ودې شرایطو سره سم باید تطبیق شي .

د زعفران درملیز ارزښت

زعفران یو له هغه قیمتي نباتاتو څخه دی چې یوازې د خوراکي مصالحې یا ښکلا لپاره نه، بلکې د روغتیا د ساتنې او ناروغیو د درملنې لپاره هم خورا مهم ګڼل کیږي. د زعفران درملیز ارزښت د هغه په کیمیاوي مرکباتو، د بدن په سیستمونو باندې مثبت اغیزو، د معافیت لوړولو ځانګړتیاوو، د رواني فشار کمولو او د عصبي سیستم د فعالیت په ښه کولو پورې تړلی دی. دا ځانګړتیاوې د لرغونو دودیزو علمي منابعو او عصري ساینسي څیړنو په مرسته تثبیت شوي دي.

د زعفران روغتیایي او درملیزې ګټې

زعفران نه یوازې د خوړ، بوی او ښکلي رنګ لپاره کارول کیږي، بلکې ګڼ شمېر درملیزې او روغتیایي ګټې لري. دغه نبات د فعالو ترکیبونو لکه **کروسین**، **کروستین او سافرانال** له امله د بدن مختلف سیستمونه تقویه کوي. د دې ګټې په لاندې ډول دي:

زعفران

1. **د خپګان درملنه او نشاط** :د سروټونین زیاتول، د خپګان کمول، د نورو ضدافسردګي درملو عوارض کمول .
2. **داضطراب کمول اوآرامښت** :د هورمونونو توازن او د ذهني فشار کمول .
3. **د زکام او ناروغیو مخنیوی** :د وټامین C لوړ مقدار د معافیت سیستم تقویه کوي .
4. **د زړه ساتنه** :آنتي‌اکسیدانونه د آزاد رادیکالونو خنثی کوي او د زړه روغتیا خوندي کوي .
5. **د سرطان مخنیوی** :دآزاد رادیکالونو د زیان کمول او د حجروي محافظت .
6. **دمغز فعالیت قوي کول** :حافظه او تمرکز زیاتول، د پارکینسون او نورو عصبي ناروغیو مخنیوی .
7. **دانرژۍ زیاتول** :د غوړو او ګلوکوز سوخت او ساز ښه کول .
8. **ښه خوب او آرامښت** :د عصبي سیستم ارامول، د خوب کیفیت ښه کول .
9. **د تنفس ښه والی** :د استما او تنګۍ کمول .
10. **شفاف او روغ پوست** :د کلاژن ساتنه، د پوستکي د زخمونو او جوشونو کمول .
11. **د ښځو د قاعدې ناروغیو کمول** PMS :درد او اضطراب کمول، د دوره تنظیم .
12. **د لمر سوختګي درملنه** :د زعفران او شیدو ماسک د پوستکي آرامول .
13. **د معدې روغتیا** :د نفخ او اسید معده کمول، د هاضمې ښه والی .
14. **د هډوکو ځواک** :د کلسیم جذب زیاتول، د پوکي هډوکو مخنیوی .
15. **د وینې جریان ښه کول** :د وینې سرې حجرې زیاتول، د اکسیجن رسونه ښه کول .
16. **د درد کمول** :د التهاب کمول او د عضلاتو ارامتیا .
17. **د لید ښه کول** :د سترګو روغتیا ساتل، د ماکولا او د اوبو مریار مخنیوی .
18. **د الزایمر مخنیوی** :د حافظې ساتنه او د عصبي ناروغیو کمول .

19.**د ګوارشي ناروغیو مخنیوی** :د مزاج متوازن ساتل او د کبد او پښتورګو روغتیا .

20.**د وښتو کمښت کمول** :د فولیکولونو قوي کول او د وښتو وده .

فواید د ماشومانو لپاره:

- انرژي زیاتول، هضم ښه کول، د سیستم ایمني قوي کول، د اضطراب کمول، د هډوکو ځواک، د دندان درد کمول .

د زعفران ګلبرګ ګټې:

- د زړه ناروغیو مخنیوی، د شکرې د کچې توازن، د پوستکي او وینې جریان ښه کول، آرامبخشي او د وینې فشار کمول .

۱ .د زعفران کیمیاوي مرکبات

د زعفران روغتیايي او درملیز ارزښت تر ډېره د هغه په کیمیاوي موادو پورې اړه لري. د زعفران په تارونو کې لاندې مرکبات مهم دي:

1. **کروسین :(Crocins)** دا د زعفران اصلي رنګ جوړوي او د قوي انتي اکسیډنټ ځانګړتیاوې لري. کروسین د زړه، مغزو او ځینو عصبي ناروغیو د مخنیوي لپاره ګټور دی .
2. **سافرانال :(Safranal)** دا مرکب د زعفران ځانګړې بوی برابروي او د رواني فشار کمولو، خوب ښه کولو او آرامتیا لپاره کارول کېږي .
3. **پیکروکروسین :(Picrocrocin)** د زعفران خوند لپاره مسؤلیت لري او د معدې او هضم سیستم لپاره ګټور ګڼل کېږي .
4. **فلونویډونه :(Flavonoids)** د معافیت لوړولو او د وینې فشار کمولو کې مرسته کوي .

دغه مرکبات په زعفران کې د مختلفو درملیزو اغیزو سبب ګرځي، او د دوی شتون د محصول کیفیت او د ناروغیو په مخنیوي کې اهمیت لري.

۲ .د معدې او هضم سیستم لپاره ګټې

زعفران د معدې او هضم لپاره ګڼې ګټې لري:

- د معدې د التهاب او سوختګۍ د کمولو وړتیا لري .
- د معدې د تیزابیت تنظیموي، چې د سوځیدنې، معدې درد او اسهال په مخنیوي کې مرسته کوي .
- د هضم سیستم د فعالیت ښه کولو لپاره د ګټورو نکي انزایمونو تولید زیاتوي .
- د معدې د باکتریاوو د متوازن ساتلو لپاره د طبیعي ضد باکتریایي ځانګړتیاوې لري .

په دودیزو درملو کې، زعفران د معدې د ناروغیو لکه سوء هاضمه، gastritisاو معدوي دردونو لپاره کارول شوی دی. عصري څیړنو ښودلې چې د زعفران کیمیاوي مرکبات د معدې په مخاط کې سوخت او التهابي حالت کموي.

۳ .د عصبي سیستم لپاره اغیز

زعفران د عصبي سیستم د فعالیت ښه کولو او د رواني فشار کمولو لپاره خورا مهم دی:

- **د خوابدۍ او اضطراب کمول** :سافرانال او کروسین د مغزو په کیمیاوي موادو باندې اثر کوي، چې د خوابدۍ کمښت او د مزاج ښه والي سبب ګرځي .
- **د خوب ښه کول** :د خوب د کیفیت ښه کولو لپاره د زعفران استخراجونه کارول شوي، چې د خوب اوږدوالی او ژوروالی زیاتوي .
- **د حافظې او ذهني فعالیت ښه کول** :څیړنې ښيي چې کروسین د مغزو د عصبي حجراتو د ساتنې او حافظې د ښه والي لپاره ګټور دی .

دعصبي سیستم لپاره دزعفران کارونه دعصري درملو دبدیل په توګه هم مطالعه شوي، ځکه چې د طبیعي مرکباتو په مرسته د درملو د منفي اغیزو مخه نیولای شي.

۴ .د معافیت لوړولو ځانګړ تیاوې

زعفران د معافیت لوړولو لپاره ځانګړي ارزښت لري:

- د بدن د دفاعي حجراتو فعالیت زیاتوي، چې د بکتریاوو، ویروسونو او انفیکشنونو په مقابل کې مقاومت زیاتوي .
- د انتي اکسیډنټ ځانګړ تیاوې د حجراتو د زړښت مخه نیسي او د ناروغیو د رامنځته کېدو چانس کموي .
- په ځانګړي توګه د زړه او وینې د سیستم د روغتیا لپاره ګټور دی، ځکه چې د وینې فشار او د وینې د حجراتو فعالیت متوازن ساتي .

د معافیت لوړولو له امله، زعفران په دودیزو درملو کې د ناروغیو د مخنیوي او د روغتیا د ساتنې لپاره د یوې مهمې سرچینې په توګه کارول کېږي.

۵ .د زړه او وینې سیستم لپاره اغیز

- د زړه د فشار کمولو ځانګړ تیاوې لري .
- د وینې د رګونو د تنګیدو مخه نیسي .
- د زړه د ناروغیو لکه آریتمیا او د زړه د دوراني ستونزو د کمښت لپاره ګټور ګڼل کېږي .

د ساینسي څیړنو له مخې، د زعفران استعمال د وینې د فشار او د زړه د عضلاتو د فعالیت په تنظیم کې مرسته کوي، چې دا د زړه ناروغیو مخنیوي لپاره مهمه ځانګړ تیا ده.

۶ .د سرطان او ناروغیو مخنیوي وړتیاوې

د زعفران کیمیاوي مرکبات، په ځانګړي توګه کروسین او فلونویډونه، د انټي اکسیډنټ فعالیت لري، چې د حجراتو د زړښت مخه نیسي او د سرطان د حجرو وده کموي.

- د ځینو څیړنو له مخې، د زعفران استخراج د سرطان د حجرو د فعالیت کمولو او د حجرو د طبیعی مړینې (Apoptosis) د پروسې په فعالولو کې مرسته کوي .
- د مغزو، ځیګر او د معدې د سرطان په وړاندې د دفاعي اغیزو شواهد موجود دي .

دا ځانګړتیاوې د زعفران د درملیزو ارزښت یوه مهمه برخه ګڼل کېږي، ځکه چې د طبیعي مرکباتو له لارې د ناروغیو مخنیوی کولای شي د درملو د منفي اغیزو خطر کم کړي.

۷ .د ساري ناروغیو مخنیوي او ضد انفکشن اغیز

- زعفران د انټي باکتریایي او انټي ویروس ځانګړتیاوې لري .
- د معدې او هضم سستم د باکتریاوو په مقابل کې مقاومت زیاتوي .
- د پوستکي، غوږ او تنفسي سیستم د ځینو ساري ناروغیو په مخنیوي کې ګټور ګڼل کېږي .

د عصري څیړنو له مخې، د زعفران استخراج د ځینو باکتریاوو لکه **E. coli** او **Staphylococcus aureus** په مخنیوي کې مثبت اغیز لري.

۸ .رواني فشار، اضطراب او خوابدۍ کمول

زعفران د رواني فشار او خوابدۍ د کمولو لپاره دودیزو او عصري درملو کې کارول کیږي. د سافرانال او کروسین مرکبات د مغزو په کیمیاوي موادو لکه **سروتونین** باندې اغیز کوي، چې د مزاج ښه کولو او خوابدۍ د کمولو سبب ګرځي.

- د زعفران استعمال د خوابدۍ د درملنې لپاره د طبیعي درملو په توګه مطالعه شوی .
- د خوب د کیفیت ښه کولو، ذهني آرامتیا او عصبي فشار کمولو لپاره اغیزمن دی .

۹ .علمي څیړنې او تجربوي شواهد

د زعفران درملیز ارزښت د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې د ساینسي څیړنو له لارې تایید شوی دی.

- څیړنې ښیي چې د زعفران استخراج د معدې التهاب کموي او د هضم سیستم فعالیت ښه کوي .
- د عصبي سیستم فعالیت، حافظه او خوب ښه کولو لپاره مثبت اغیز لري .
- د معافیت لوړولو، د وینې فشار کمولو او د زړه د فعالیت ښه کولو لپاره ګټور دی .
- د انټي اکسیډنټ ځانګړتیاوې د سرطان او نورو ناروغیو د مخنیوي لپاره مرسته کوي .

۱۰ .نتیجه

د زعفران درملیز ارزښت په حقیقت کې د هغه په کیمیاوي مرکباتو، د بدن په مختلفو سیستمونو باندې اغیزو، د معافیت لوړولو، د رواني فشار کمولو او د عصبي سیستم د فعالیت په ښه کولو کې څرګندیږي. دا نبات د دودیزو درملو او عصري څیړنو له مخې د روغتیا د ساتنې او ناروغیو د مخنیوي لپاره خورا مهم ګڼل کیږي. د زعفران استعمال د طبیعي مرکباتو په مرسته د انسان د روغتیا د ساتنې لپاره بې سارې ځانګړتیاوې لري او د عصري درملو په پرتله لږ منفي اغیزې لري.

۱ .د خوراکي کارونې طریقې

1. **د خوړو رنګ ورکول :**زعفران په خوراک کې د خوند او ښکلي ژیړ رنګ ورکولو لپاره کارول کیږي. دا د وریژو، کیکونو، شیرینو، او غوښو په خوراکونو کې استعمالیږي. دمثال په توګه، د "پلاؤ" په ډش کې څو ریشې زعفران د خوراک رنګ او خوند لوړوي .
2. **د خوند لوړول :**د زعفران ځانګړې خوشبو او خوند د خوراک ذائق لوړوي. حتی لږ مقدار یې هم د خوړو خوند زیاتوي. د وریجو، غوښې، چای، شیرینو، او کریمونو لپاره تر ټولو غوره مصالح ګڼل کیږي .
3. **د چای او مشروباتو لپاره:** په ځینو سیمو کې د زعفران ریشې د ګرم چای یا شیدو مشروباتو سره ګډیږي. دا د بدن تودوخه ساتي، انرژي زیاتوي، او د بدن مقاومت لوړوي .
4. **د کیکونو او شیرینو لپاره :**زعفران د کیکونو، پای، حلوا، او نورو شیرینو کې د رنګ، خوند، او خوشبو د ښه کولو لپاره کارول کیږي .
5. **د جوسونو او شیکونو کې استعمال:**د میوو جوسونو، شیکونو، او مغذي مشروباتو سره د زعفران یو څو ریشې د خوند او رنګ د پیاوړتیا لپاره ګډیږي .

6. **دغوښې او کبانو لپاره :**زعفران دغوښې، چرګ، کبانو، او نورو پروټین لرونکو خوراکونو په پخولو کې کارول کیږي. دا نه یوازې خوند زیاتوي، بلکې د خوراک رنګ هم ښه کوي .

۲ .ددرملیزو کارونې طریقې

1. **دوینې فشار کمول:**دزعفران په ورځني مصرف سره دوینې فشار په طبیعي ډول کنټرول کیږي .
2. **دهاضمي ستونزو درملنه:**زعفران دمعدې درد، قبض، او دهاضمي نورو ستونزو لپاره ګټور ګڼل کیږي. دلږ مقدار زعفران اوبه کې حل کول دمعدې لپاره آرامتیا ورکوي .
3. **دسترګو روغتیا:**زعفران دسترګو دلید ښه کولو لپاره هم کارول کیږي. څیړنو ښودلې چې زعفران دسترګو د رڼا ساتلو او دعمر سره تړلو ستونزو کمولو کې مرسته کوي .
4. **د بدن داخلي تودوخه او انرژي:** د زعفران ګرم طبیعت د بدن انرژي لوړوي، سردرد، او ستړیا کموي .
5. **د حافظې او ذهن فعالیت:** څیړنو ښودلې چې زعفران د حافظې او د مغزو فعالیتونو لپاره ګټور دی، په ځانګړي ډول دعمر په زیاتوالي کې .
